**له ناټو څخه د اکراین هیلې؛ له باران نه ناوې ته کښېناستل**




**خبر:**

د مارچ پر ۲۸مه د چهار شنبې په ورځ، د اکراین ولسمشر پیټرو پروشینکو د ۲۰۱۸م لپاره ناټو ته د اکراین د ورګډېدو په ملاتړ د کلني ملي پروګرام په اړه فرمان لاسلیک کړ.

د ولسمشرۍ مانۍ د رسنیزو خدمتونو د راپور پر بنسټ، د دې ستراتیژۍ بنسټیزه موخه د اکراین لپاره د همغږۍ رامنځته کول دي، چې د ناټو غړیتوب تر لاسه کړي. ( سرچینه:ZN UA)

**تبصره:**

تر دې وړاندې د مارچ پر ۲۱مه د اکراین د ولسمشرۍ مانۍ رسنیز مرکز د پیټرو پروشینکو یوه وینا خپره کړه، چې له آلمانۍ ورځپاڼې (هامبرګ مابنام) سره یې په یوه مرکه کې ویلي و: « موږ له ناټو سره د غړیتوب لپاره ځانګړې هڅې پیل کړي. زموږ موخه په راتلونکو لسو کلونو کې د دغه تړون غړیتوب تر لاسه کول دي ».

له شک پرته، د اکراین د ولسمشر دا ډول څرګندونې د روسیې فدراسیون او لوېدیځ تر منځ له وروستیو ترینګلو اړیکو سره جوختې شوي دي.

د ۲۰۱۸م د مارچ پر ۲۱ مه  د روسیې ولسمشر فدارلي پارلمان ته په خپله کلنۍ وینا کې هغه ننګونې په ګوته کړې، چې لوېدیځ ورسره مخ کېدونکی دی، په دې برخه کې یې د روسي ساینسپوهانو له لورې د نویو لاسته راوړنو یادونه وکړه، چې نوې پرمختللې وسلې یې ښه بېلګه ده. د روسي چارواکو له لورې په تېرو دوو کلونو کې دا ډول په ډاګه ځان ښودنه نه وه شوې.

د مارچ پر څلورمه د انګلستان په سالیسبوري کې یوه پېښه را منځته شوه چې پکې سرګې سکریپال او د هغه لور، چې د روسیې د وسلوال پوځ پخوانی کارمند او دوه اړخیزه جاسوس و، په زهرو مسموم شول. دا پېښه د دې لامل شوه، چې روسیه او یو شمېر لوېدیځ هیوادونه د اکراین په ګډون یو د بل له  خاورو څخه یو شمېر ډیپلوماټان وشړي.

د روسيې فدارسيون او د لوېديځ هيوداونو تر منځ  په اړيکو کې د کړکېچ او نويو بدلونونو په اړه خبرونه هره ورځ په سرټکو کې راځي. د بېلګې په ډول، په اروپايي ټولنه کې د پردې تر شا له روسيې سره  اړيکې د خرابۍ لور ته روانې دي. د ډيويچ ويله (DW) د خبر پر بنسټ، اروپايي کميسون د مارچ د ۲۸ مې په وړاندې کړل شوي پلان کې پرېکړه کړې، چې د ټانکونو او نورو درنو وسايلو د لېږد په موخه به د پلونو، لويو لارو او د اورګاډو د امنيت او خونديتوب څارنه کوي.

د دغو نويو کړکېچونو د علت په اړه لاندې ټکو ته اشاره کوو:

په هر حال، پوتين هيله من دی چې له لوېديځ سره اړيکې عادي حالت ته راولي او په ځانګړې توګه له امريکا سره چې په بشپړه توګه يې اړيکې ورسره ترينګلې شوي.

د مرستو ډاډ چې امريکا او سوريې ته ورکول کېده، هغه هيلې چې د امريکا د نوي ادارې مشرتابه، ټرمپ ته ورکول کېدې او دغه راز د صبر او اميد پاليسې چې له اروپا سره مخ ته وړل کېده، دا ټول هغه څه دي چې روسي فدراسيون ترسره کړي، خو په وروستيو کې نوموړی فدارسيون پوه شو، چې اقتصادي بنديزونه به د اروپايي ټولنې غړي هيوادونه سملاسي او يا وروسته دې ته اړ کړي، چې د روسيې پر وړاندې داسې ګامونه اوچت کړي، چې دوی يې هيله نه لري.

د روسيې کورني او بهرني سياسي حالت يو ځل بيا د پوتين پام ځان ته واړوه او وپوهېد، چې يو بهرنی دښمن د لوېديځ په څېره کې د امريکا په مشرۍ شتون لري. د روسيې فدراسيون له لورې د شخړو را منځته کول په طبعي ډول د اروپا او امريکا له لورې متقابل عمل له ځانه سره لري. نو په دې حالت کې موږ بايد د شمالي اتلانتيک يا ناټو تړون ته د اکراين د ورګډېدو د هيلو په اړه غور وکړو، چې د اکراين ولسمشر پيترو پروشينکو يې په اړه فرمان هم لاسليک کړی دی.

د اوکراين په اړه بايد ووايو، چې په ناټو کې غړيتوب به اکرايني وګړو ته هيڅ ګټه ونه لري، ځکه د ۲۰۱۴م په پسرلي کې اکراين ته تش په نامه د «نړيوال جمعي امنيت» يا «د امنيت په اړه د نړيوال تضمين»  واقعيت ښه څرګند شو. ښه بېلګه يې په اکراين کې د روسيې نظامي مداخله وه، کله چې د «هنګري هوکړې» يو تضمينونکی په خپله تړون ماتوي او د يو غاصب په څېر د سوېيل ختيځ اوکراين يوه برخه اشغال او له خپلې خاورې سره يې نښلوي او نور تش په نامه «تضمينونکي» د پردې تر شا د خپلو ګټو او خونديتوب لپاره ورسره هوکړه کوي او د دوه مخېتوب په پلمه يوازې تشه اندېښنه ښيي.

«نړيوال امنيت» او تش په نامه «نړيوال قانون» له تېر ايستلو پرته بل څه نه دي، ځکه هر دولت يوازې او يوازې د خپلو ملي ګټو تامين لپاره کار کوي او له نورو ټولو نړيوالو اصولو څخه د وسيلې په توګه د دې ګټو د ډاډمنتيا لپاره کار اخلي. په نړۍ کې د نن ورځې د کمزورو خلکو حالت همدا دی. د اکراين په ګډون دوی ټول د لويو قدرتونو له غوښتنو سره سم يرغمل شوي او دې ته اړ ايستل کېږي چې په بېلابېلو قدرتونو پورې ځانونه وتړي، تر څو د بل قدرت له جنايتونو څخه ځان وژغوري، خو د کوچنيو ملتونو پر وړاندې دوی په جنايتونو کې يو له بل سره کوم توپير نه لري او ټول په يوه درجه کې ځای لري.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر ته**

**ليکوال: په اکراين کې د مطبوعاتي دفتر مشر فاضل امزيوف**

**ژباړن:عبدالله لطفي**

**۱۴۳۹هـ.ق، د رجب ۱٦ مه**

۲۰۱۸م، د اپریل ۳ مه